د «تصويبات في فهم بعض الآيات» ژباړه

# ځيني آيتونه او ناسم فهم


ليکوال:

د. صلاح عبدالفتاح خالدي

ژباړن:

م.ياسين مجاهد


ځيني آيتونه او ناسم فهم

ژباړه: م. ياسين مجاهد

# Corrections in Understanding Some Verses


**Translated by:** M.Yasin Mujahid



2023

ISBN 978-9936-661-82-0

9 789936 661820

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د ژباړې مرکز

# ځینې آیتونه او ناسم فهم

## د «تصویبات في فهم بعض الآیات» ژباړه

لیکوال: د. صلاح عبد الفتاح خالدي

ژباړن: م. یاسین مجاهد

## د کتاب ځانګړتیاوې:

**د کتاب نوم**: ځینې آیتونه او ناسم فهم

**لیکوال** : د. صلاح عبدالفتاح خالدي

**ژباړن**: م. یاسین مجاهد

**ایډیټ او اهتمام**: مولوي محمد عمر جلال

**د چاپ کال**: ۱٤۰۲ل / ۱۴۴۵ هـ ق

**خپرندوی**: د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای**: بهیر مطبعه

ISBN : ۰ – ۸۲- ٦٦١- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

## ډالۍ

ټولو هغو کسانو ته چې د حق او هدآیت په لټه کې دي

هغه چې خبرې اوري، ښې يې مني او له بدو څخه يې تېرېږي

او ګرانه لوستونکيه! همدا تا ته!

چې په همدې موخه دې دغه کتاب در اخيستی دی

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


**د مرکز نظر ................................................................................................. ا**

**د ژباړن سریزه ................................................................................................. ١**

**د لیکوال سریزه ................................................................................................. ٥**

په قرآن کریم کې د تدبر وجوب ................................................................................ ١١

د پوهاوي او فهم لپاره د قرآن کریم آسانتیا ........................................................... ١٣

له قرآن کریم څخه پر ناسم پوهاوي رد ..................................................................... ١٥

له علم پرته د قرآن کریم په تفسیر کې له خبرو څخه خبرداری ..................................... ١٧

د تفسیر له اړخه د قرآن کریم ډولونه ........................................................................ ٢١

د قرآن کریم څېړونکي ته اړین علوم ......................................................................... ٢٣

د قرآن کریم پر څېړونکي لازم آداب ......................................................................... ٢٦

د قرآن کریم د سمې پوهېدنې پر وړاندې خنډونه ......................................................... ٢٨

د قرآن کریم د سمې پوهېدنې وفاداران ..................................................................... ٣١

**رسول الله ﷺ د ځینو آیتونو سم مفهوم بیانوي ............................................................ ٣٣**

١- رسول الله ﷺ عدي بن حاتم ته د دوو تارونو معنا بیانوي ............................................. ٣٥

٢. رسول الله ﷺ د بدی په بدل کې د سزا معنا بیانوي ....................................................... ٣٩

٣. رسول الله ﷺ په انعام سورت کې د یاد شوي ظلم مطلب بیانوي ...................................... ٤٣

٤. رسول الله ﷺ دا روښانه کوي چې مریم څنګه د هارون خور ده ........................................ ٤٥

٥. رسول الله ﷺ جهنم ته د ورود معنا بیانوي ................................................................... ٤٧

٦. رسول الله ﷺ د اسانه حساب معنا بیانوي ...................................................................... ٤٩

**اصحاب کرام رضي الله عنهم ځینې قرآني مفاهیم سموي .................................................. ٥١**

١ -عایشه رضي الله عنها عروه رضي الله عنه ته د صفا او مروه تر منځ د سعیې سمه معنا بیانوي ........................ ٥٢

٢ -ابو ایوب انصاري رضي الله عنه د هلاکت معنا روښانوي .................................................. ٥٤

٣ -ابن عباس رضي الله عنهما له ښځې سره د کوروالي په اړه د ابن عمر رضي الله عنهما پوهاوی سموي .................. ٥٦

٤ -ابن عباس رضي الله عنهما ابن الحکم ته هغه کسان محدودوي چې په خپلو کړنو خوشحاله دي ......................... ٥٩

٥ - عمر بن الخطاب ﵁ او هغه کسان چې د تأویل له مخې یې شراب څښلي وو ........... ٦١

٦ - اصحاب کرام ﵃ د {عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ} معنا «د ځان فکر وکړئ» معنا بیانوي ........... ٦٣

٧ - د الله ﷻ د دې وینا {وظنّوا أنهم قد كُذِبوا} په اړه د عایشې ﵂ او عروه ﵄ بحث ........... ٦٦

٨ - ابن مسعود ﵁ او د لوګي آیتونه ........... ٧٠

٩ - د عایشې ﵂ د ورور په اړه د هغې او ابن الحکم تر منځ بحث ........... ٧٢

١٠ - د النصر سورت د معنا په اړه د ابن عباس ﵄ او ځینې اصحابو کرامو ﵃ واقعه ........... ٧٤

١١ - ابن عباس ﵄ د نصوصو تر منځ موهومي ټکر له منځه وړي ........... ٧٦

١٢ - د رسول الله ﷺ لهخوا د خپل رب د لیدو په اړه د اصحابو کرامو ﵃ تر منځ ... ........... ٨٠

**په دې زمانه کې د غلط فهمیو زیاتېدل ........... ٨٥**

**د هغو آیتونو نمونې چې معناوې یې تحریف شوې دي: د مفاهیمو اصلاحات او سمونې ........... ٨٩**

{عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ} ........... ٩١

«د ځانونو فکر وکړئ» ........... ٩١

په خپلو لاسونو خپل ځانونه په هلاکت کې مه غورځوئ ........... ١٠٢

څومره چې کولی شئ، له الله ﷻ څخه ووېرېږئ ........... ١١٢

الله ﷻ هېڅ نفس ته د هغه له وسه پورته مسئولیت نه متوجه کوي ........... ١١٨

د خپل رب د لارې په لوري بلنه ورکړه ........... ١٢٨

له هغه سره په نرمۍ خبرې وکړئ ........... ١٣٤

ته چې چا ته وغواړې او خوښ دې وي، هغه ته هدایت نه شې کولای ........... ١٤٤

او تاسې ته مې د نړۍ پر ټولو اُمتونو فضیلت درکړی و ........... ١٥٦

هغه سپېڅلې ځمکه چې الله ﷻ ستاسې لپاره لیکلې ده ........... ١٦٣

او د مؤمنانو په دوستۍ کې به ډېر نږدې هغه خلک ومومې ........... ١٦٩

کومو کسانو چې ایمان راووړ، کوم کسان چې یهودیان شول، نصارا او صابئیان ........... ١٧٦

او په خپله الله ﷻ موږ ته د داسې چارو سرته رسولو امر کړی دی ........... ١٨٥

ستاسې څخه هېڅوک داسې نه شته چې دوزخ ته ورتلونکی نه وي ........... ١٩٥

موږ په کتاب کې هېڅ شی [بې لیکلو] نه دي پرېښې ........... ١٩٩

او که دښمن د روغې جوړې خوا ته میلان ولري، نو ته هم ورته مایل شه ........... ٢٠٧

چې ووژل شي، یا په دار وځړول شي ........................................................................ ۲۱۵
د کلي بډایانو ته حکم کوو، خو هغوی په نافرمانیو لاس پورې کوي ................................. ۲۱۹
زیاته او څو برابره سود خوري پرېږدئ .................................................................... ۲۲۷
په نېکۍ او تقوا کې له یو بل سره مرسته وکړئ ........................................................ ۲۳۱
په تاسې کې دې یوه ډله خلک داسې وي ................................................................ ۲۳۴
حقیقت دا دی چې د الله ﷻ له بندګانو څخه یوازې عالمان له هغه څخه وېرېږي () ........................ ۲۳۹
آیا پوهېدونکي او نه پوهېدونکي سره برابر دي؟ ....................................................... ۲۴۳
خو نه شئ تښتېدلی، د دې لپاره ډېر قوت په کار دی ................................................ ۲۴۶
که تاسې وغواړئ هم ......................................................................................... ۲۵۱
او د خپلو چارواکو اطاعت وکړئ .......................................................................... ۲۵۵
هغوی به د تل لپاره همالته اوسېږي، تر څو پورې چې آسمانونه او ځمکه وي ........................ ۲۶۳
له پاکانو پرته یې څوک نه شي مسح کولی ................................................................ ۲۷۰
هماغوی کافران ... ظالمان ... فاسقان دي ............................................................. ۲۷۷
په سجده کوونکو کې ستا اوښتل ............................................................................ ۲۹۵
**پای** ........................................................................................................ **۳۰۱**
**اخځلیکونه** ................................................................................................. **۳۰۳**

# د مرکز نظر

موږ د ارتباطاتو په زمانه کې ژوند کوو او ترجمه د ارتباط او مفاهمې یوه مهمه وسیله او طریقه ده. همدارنګه د دې وسیلې او طریقې په مرسته د علومو او فنونو زېرمو او سرچینو ته لاره پیدا کوو او معرفت حاصلوو. څرنګه چې د ژباړې فن د بشري ټولنو له جوړېدا سره سم پیل شوی او د دوی له غوښتنو سره په تړاو یې انکشاف کړی، نو دې ټکي ته په پام، په هېواد کې د اسلامي امارت تر قیام وروسته د علومو اکاډمۍ په چوکاټ کې د ژباړې مرکز ایجاد شو. هدف یې دا دی، چې د هېوادوالو علمي، فرهنګي او تخنیکي اړتیاوو ته په کتو د علومو، فنونو او ټکنالوژۍ د بېلابېلو ډګرونو اړوند اړین او زبده آثار د هېواد ملي او رسمي ژبو ته راواړوي او خپاره یې کړي.

د علومو او فنونو وده او پرمختیا د پوهې په راخپلولو کې د بشر د پرله‌پسې هلو ځلو او تجربو نتیجه ده، چې د نړۍ تر ټولو غوره علمي او فرهنګي میراث بلل کېږي او د نړۍ فرد فرد ته په کار دي، چې پکې ونډه ولري. د دغې ونډې د جوتونې یوه نېغه او آسانه لار د نورو له تجربو څخه استفاضه او استفاده ده. د ژباړې مرکز غواړي، چې له دغې لارې څخه په ګټه د دغو او دې ته ورته نورو علمي او فني آثارو د ژباړې او خپراوي پر مټ د خپل دین، وطن او ثقافت د ودې او پرمختیا په هڅه او هاند کې خپله ملي او اسلامي فریضه ادا کړي.

د ژباړې مرکز ویاړي، چې د ایجاد له وخته یې تر اوسه په لسګونو علمي او تخصصي آثار د هېواد ملي او رسمي ژبو ته را اړولي او خپاره کړي دي او دا دی، د دې علمي او تخصصي اثر ژباړې او خپراوي سره د علم او معرفت د تعمیم او ترویج په لاره کې یو بل مهم او مستحکم ګام اوچتوي. مرکز د ژباړن، مصحح او مهتمم مننه کوي، چې د دې اثر د ژباړې، تصحیح او اهتمام کار یې په پوره لېوالتیا، مینې او اتقان سره ترسره کړی دی.

د ژباړې مرکز د اسلامي، بشري او طبیعي علومو، فنونو او نورو مؤثقو معلوماتي آثارو د ژباړې، تصحیح، اهتمام، طباعت او اشاعت د چارو د بهبود لپاره د هېواد دننه او له هېواده بهر د

ژباړونکو مشورې او همکارۍ ته د قدر په سترګه ګوري او ژمنه کوي، چې د دوی ژباړلي آثار به خپلو وسیلو او امکاناتو ته په پام په لوړ معیار او کیفیت چاپ او خپروي. هیله ده، چې درانه لوستونکي د مرکز د ژباړل شوو او خپرو کړو آثارو د بډاینې او بهبود په اړه خپل نظرونه، وړاندیزونه او سپارښتنې له مرکز څخه ونه سپموي.

په درنښت

د ژباړې مرکز

## د ژباړن سریزه

الحمد لله الذي أنزل على عبده الكتاب ولم يجعل له عوجا، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له من اتقاه وتوكل عليه جعل له من كل همّ فرجا ومن كل ضيق مخرجا، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله اتخذ القرآن سبيلا إلى ربه ومنهجا، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه أعلام الهدى ومصابيح الدجى، وسلم تسليما كثيرا، أما بعد:

قرآن کریم د الله ﷻ کتاب دی چې د انسانانو د هدآیت لپاره یې رانازل کړی دی، هغه د بشریت لپاره هدآیت، رڼا، روښانتیا، شفاء او رحمت دی. که څوک غواړي چې له فتنو څخه سالم پاتې شي، د دوزخ له اور او عذابونو څخه وژغورل شي، له ذهني او فکري ګډوډیو خلاص شي، سکون ترلاسه کړي او ابدي نېکمرغي او سعادت ته ورسېږي، نو د الله ﷻ پر دې سپېڅلي کتاب دې منګولې ولګوي، د هغه لارښوونې دې تعقیب کړي او کومه توښه چې هغه راوړې ده، په هغې دې ځان سنبال کړي.

قرآن کریم ټول له خیره ډک کتاب دی. الله ﷻ د هغه له لارې د خلکو سینې پرانیزي او د هغو سترګې پرې بینا (لیدونکي) کوي. قرآن کریم د الله ﷻ کلام دی چې تر ټولو غوره او رښتینې خبرې دي، د الله ﷻ له لوري پر محمد ﷺ رانازل شوی دی، هغه هم په پوره امانتداري خپل امت ته رسولی او امت یې نسل په نسل یو بل ته لېږدولی دی، چې دا لړۍ به د قیامت تر ورځې همداسې روانه وي.

که چېرته کومه فتنه راولاړه شي یا د خلکو تر منځ کومه لانجه او شخړه پېښه شي، نو همدغه قرآن دی چې لانجې او شخړې له منځه وړي، فتنې ختموي او مؤمنانو ته سمه لاره روښانوي، د دنیا له فتنو او د آخرت له عذابونو یې ساتي، نو له دې مخې ویل کېدی شي چې دا د الله ﷻ یو

ډېر ستر نعمت دی چې پر بشر يې لورولی دی.

هوکې، ډېر ستر نعمت! الفاظ يې خواږه او تلاوت يې خوندور دی. د زړونو رڼا کوونکی او د الله ﷻ د لارې تر ټولو ستر ښوونکی دی. انسان ته يې ټولې نېکمرغۍ په ګوته کړې او له ټولو بدبختيو څخه يې خبر کړی دی. حق او باطل، سم او ناسم، ښه او بد، هر څه يې په پوره تفصيل ورته روښانه کړي دي، نو تر دې بل لوی نعمت چېرته او کوم دی؟؟

د دې لپاره چې قرآن کريم د بشريت د دردونو، کړاوونو، ناروغيو، ستونزو او بدبختيو لپاره شفاء او د روغتيا، سلامتيا او نېکمرغۍ لامل شي، نو پر بشر لازمه ده چې دغه نسخې له قرآن کريم څخه په سالمه توګه واخلي، د هغه آيتونه په سم ډول تفسير کړي، معناوې او مفاهيم يې تحريف نه کړي. که پر کوم ځای يې پوه نه شي، بې بنسټه تأويلونه او له ځانه خبرې په کې پيل نه کړي، بلکې د يادې موضوع اړوند نور آيتونه وګوري، فکر او غور په کې وکړي، که يې ستونزه حل نه شي، په اړه يې نبوي لارښوونې ولولي، ورپسې له ياد آيت څخه د اصحابو کرامو ﷺ او تابعينو فهمونه مطالعه کړي او د باوري او کره عالمانو منل شوي او مقبول اخځونه وګوري، نو په دې توګه به هرو مرو سم پوهاوی ترلاسه کړي.

له آيتونو څخه د ناسم فهم او اخځ مخينه ډېره پخوانۍ ده. د اصحابو کرامو ﷺ په دور کې هم داسې پېښې ثبت شوې چې له ځينو آيتونو څخه ناسم اخځ شوی دی، خو دغه ناسم فهم په هماغه وخت کې د نبي کريم ﷺ او له هغه وروسته د سترو اصحابو کرامو ﷺ لهخوا اصلاح شوی او د آيتونو په اړه رامنځته شوي اشکالات يې ختم کړي دي.

په دې وروستيو کې چې د فتنو پېر دی، له بده مرغه له آيتونو څخه په شعوري او غير شعوري ډول ناسم پوهاوی اخيستل ډېر پراخ شوی دی. آن د آيتونو د معناوو تحريف د ځينو کسانو دنده ګرځېدلې ده، ځينې کسان يوازې پر همدې ګمارل شوي دي چې د شخصي- مصلحتونو يا ناولو موخو لپاره له آيتونو څخه ناسم استدلالونه وکړي، معناوې او مفاهيم يې کاږه کړي، له آيتونو څخه داسې دلالتونه او اشارې راوباسي چې د دوی د لارې پر سمون دلالت وکړي، خو له ښه مرغه چې د امت نومیالي عالمان د دښمن دې چل و فرېب او دوکو ته متوجې دي، د هغه لومې يې ښې پخې څېړلې، سپړلې او پېژندلې دي او وخت په وخت يې د امت وګړي ترې باخبره کړي

دي. کوم کسان چې له آیتونو څخه د بې علمی له امله ناسم اخځ کوي، هغوی یې هم تـل متـوجې کړي او لازمې لارښوونې یې ورته کړې دي، فجزاهم الله عنا وعن الاسلام خير الجزاء!

ستاسې په لاس کې کتاب هم یو له هغـو کتـابونو څخـه دی چـې لیکـوال یـې موضـوع د هغـو آیتونو په اړه بحث ته ځانګړې کړې ده چې ځینې کسان ترې ناسم پوهېدلي دي. د کتـاب پـه پیـل کې یې ځینې اړینې خبرې کـړې دي، د هغـو علومـو او آدابـو یادونـه یـې کـړې ده چـې د آیتونـو څېړونکي ته لازم دي. دغه راز هغه ټکي یې په ګوته کړي چې څېړونکی بایـد ډېـه تـرې وکـړي او هغه لارې چارې یې ښوولې دي چې څېړونکی تر کره فهم او سم اخځ پورې رسوي.

دا چې کتاب ډېر په زړه پورې، د وخت له غوښتنو سره ډېـر مناسـب او خلکـو تـه ډېـر اړیـن او ضروري و، نو له همدې امله مو پښتو کړ.

## د کتاب د پښتو ژباړې ځانګړتیاوې:

۱. کتاب مې پښتو ژبې ته په داسې توګه را ژباړلی، چې تـر خپلـې وسـې پـورې مـې یـې مفهوم په بشپړ ډول را انتقال کړی او په ژباړه کې یې ابهام نه‌شته.

۲. له ژباړې وروسته د علمي کره‌کتنې او اوډون لپاره اړونـدو مسـلکي کسـانو تـه سـپارل شوی دی او د هغو ګټورې سپارښتنې مې په پام کې نیولې دي.

۳. په کتاب کې د راغلو آیتونو او حدیثونو د ژباړو او مفاهیمو په برخـه کـې مـې د اهـل سنت والجماعت له معتبرو تفسیرونو او شرحو څخه اسـتفاده کـړې ده او د مـتن لـه منځپـانګې سره سم معتبر مفاهیم او ژباړې مې لیکلې دي.

٤. که په متن کې کومه ګونګتیا راته ښکاره شوې ده، نو د ژباړې د ساده کولو او روانولـو لپاره مې په ځانګړو توضیحي قوسونو ([]) کې د هغه ضمني مفـاهیم او وضـاحتونه راوړي دي چې له اصلي متن سره یې توپیر وشي.

۵. دا چې امانتداري د ژباړې یو خورا مهم اصل دی، نو د لیکوال مفهوم مې لکه څرنګـه چې دی کټ مټ هماغسې پښتو ته راړولی دی، داسې مې نه‌دي کړي چې که کـوم ځـای یـې ډېر خوند راکړی نو هغه مې لا زیات سینګار کړی او که کوم ځای یې راته په زړه پـورې نـه و، نو هغه ته مې توجه نه ده کړې، بلکې تر خپلې وسې پورې مې هڅه کړې چې یوه کلمه یې پـر مفهوم ور اضافه او یا ترې کمه نه کړم.

په پای کې له ټولو هغو کسانو څخه مننه کوم چې په دې برخه کې یې لږ و ډېره مرسته راسره کړې ده او خپلې ګټورې مشورې یې نه دي راڅخه سپمولې. الله ﷻ دې د کتاب لیکوال، لوستونکو او موږ ټولو ته اجرونه راکړي او زموږ ناچیزه زیار او زحمت دې په خپل دربار کې قبول کړي. دا کتاب دې د هغو کسانو د هدآیت وسیله وګرځوي چې له آیتونو څخه ناسم اخځ کوي، زموږ ناسمې او خامې مفکورې دې را سمې او پخې او زموږ ویجاړ افکار دې را اصلاح کړي.

وبالله توفیق

م. یاسین مجاهد

۵/۱۱/۱۴۰۱

د شپې ۱۱:۱۲

## د ليکوال سريزه

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستهديه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا. من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له. وأشهد أن لا إله إلا الله، وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، صلوات الله وسلامه عليه، وعلى آله وصحبه.

أما بعد:

گرانو لوستونکو ته د «من كنوز القرآن» د لړۍ خپل ځلورم کتاب وړاندې کوو، چې دا لړۍ مو د قرآن کريم موضوعاتو، اصطلاحاتو، علومو او خزانو ته ځانگړې کړې ده.

په دې کتاب کې مو د قرآن کريم د ځينو آيتونو په اړه د هغو مسلمانانو د فهمونو د اصلاح او سمون پر موضوع بحث کړی دی، چې له يادو آيتونو څخه يې ناسم اخځ کړی دی، هغه يې په مرفوض او مردود ډول تفسير کړي دي، د ناسمو او باطلو شيانو له مخې يې استدلال ترې کړی دی او د نه منلو وړ (غير مقبول) دلالتونه يې ترې را ايستلي دي، نو په دې سره يې د آيتونو معناوې تحريف او د هغو دندې يې تعطيل کړې او کتاب ته مو «تصويبات في فهم بعض الآيات» نوم غوره کړی دی.

قرآن کريم د هدآيت کتاب دی، روح او ژوند دی، رڼا او روښانتيا ده، شفا او درمل دي، دستور او تګلاره ده، د ايمان او عقيدې کتاب دی، د عبادت او اطاعت کتاب دی، د فقهې او احکامو کتاب دی، د دعوت او خوځښت کتاب دی او د جهاد او مقابلې کتاب دی.

قرآن کريم د مسلمانانو لومړنی او وروستنی کتاب دی، د دوی دستور، تګلاره، رهبر او لارښود

دی. هغه ته د مسلمانانو په ژوندانه کې یوه عملي، خوځوونکې او حقیقي دنده ورلـه‌غاړې ده چې بإذن الله د ترسره کولو او سرته رسولو توان یې لري، که مسلمانان پـه ایمانـداری، جـدیت او کلـک هوډ سره ورته مخه کړي، په اخلاص او زیار سره ځانونه پـرې وروزي، پـه ثابـت قـدمی او بیـداری سره حرکت او په مېړانه او زړورتیا د جاهلیت پر وړاندې مبـارزه پـرې وکـړي، اصـحابو کرامـو رضي الله عنهم همداسې ورته مخه کړې وه، نو ده هم خپله دنده په ښه توګه ترسره کړه.

د قرآن کریم آیتونـه بېلابېـل حقیقتونـه او بـدهیات بیـانوي او رښـتیني اصـیل قـرآني مفهومونـه وړاندې کوي. هو، ډېر زیات رښتیني، بشپړ، هر اړخیز او ستر قـرآني مفـاهیم شـته چـې آیتونـه یـې وړاندې کوي!

په دغه دور کې د مسلمانانو په ژوندانه او سـیمو کـې عجیبـه ښـکارندې (پدیـدې) راڅرګنـدې شوې دي، د مسلمانانو په [بېلابېلو] طبقو کې په ژوره، عملي او پېچلې بڼه جهالت خپور شوی دی، [هغـه جهالـت] د اسـلام او د هغـه پـر قوانینـو نـاپوهي او د قـرآن او د هغـه لـه مفـاهیمو، اصـولو او حقیقتونو څخه ناخبري ده. ډېر مسلمانان د قرآن د آیتونـو پـر معنـاوو نـه پـوهېږي او کـومې سـمې لارښوونې چې باید ترې واخیستل شي، نه یې پېژني، که د یوه یا څو آیتونـو تفسیر ورتـه وکـړې، د هغـو مفـاهیم او لارښـوونې ورتـه بیـان کـړې، هـک پـک حیران شي، ځینـې یـې درڅخـه منـي او چک‌چکې درته وهي او ځینې یې بیا دروغ ګڼي او مخ در څخه اړوي.

کاش چې ځینو دغو کسانو د آیتونو پر معنا بانـدې پـه نـه پوهېـدو بسـنه کـړې وای او پـه بشـپړ همت، معقولیت او صداقت سره یې د هغو د تفسیر غوښتنه کړې وای، هم به یې په خپله ګټـه تـرې اخیستې وه او هم به یې نـورو تـه ګټـه رسېدلې وه. خـو دوی خپلـه نـاپوهي پـر قـرآن او د هغـه پـر مفاهیمو وراچولې او د هغه آیتونو ته یې مخه کړې؛ د خپلو مزاجونو، نفسي-غوښـتنو، لېوالتیـاوو او کلتورونو مطابق یې تفسیروي. نو د دوی له‌خوا د آیتونو تفسیر او د هغو د مفاهیمو او معناوو بیـان د دوی د مرکب جهل او مردود مزاج پایله ده.

د آیتونو، د هغو د معناوو د تحریفولو، د هغو د مفاهیمو د بدلولو او له هغو څخـه د باطـل اخـځ کولو په اړه مو د دغو خلکو ځومره خبرې اورېدلې، لوستلې او رارسېدلې دي!

الله سبحانه وتعالى خبر دی چې د هغه پر کتاب باندې دې برید او تهجم ځومره کړولي یو! د هغه په هکلـه

له علم، پوهې او عدالت پرته خبرو څومره تکلیف را کړی دی! او د هغه پر مفاهیمو او حقایقو تېریو او د هغه له آیتونو څخه ناوړه استنباط او استشهاد څومره دردولي یو!

په دې دور کې د قرآن کریم [د ځینو آیتونو اړوند] څومره معناوې پټې شوې، څومره حقایق یې پوښل شوي او څومره مفاهیم یې تحریف او ګډوډ شوي دي!

له همدې امله مو دغه کتاب دې ته ځانګړی کړ چې د الله ﷻ پر کتاب باندې د ځینو د تېریو او د هغه د مفاهیمو د بدلولو په اړه بحث په کې وکړو، تر څو د دوی او له دوی څخه د اغېزمنو شویو کسانو هغه فهم او درک سم کړو چې له آیتونو څخه یې اخیستی، تفسیر یې اصلاح او په آیتونو کې پرتې رښتینې معناوې دوی ته روښانه کړو.

کتاب مو په لاندې لنډو اشارو سره پیل کړی دی: په قرآن کې د تدبر وجوب، د فهم او تدبر لپاره د هغه آسانتیا، له علم پرته د هغه په تفسیر کې له خبرو څخه خبرداری او د تفسیر له پلوه د قرآن کریم ډولونه.

د هغو مهمو علومو په اړه مو خبرې کړې چې د قرآن څېړونکی او د هغه په آیتونو کې فکر کوونکی اړتیا ورته لري. دغه راز د هغو خورا مهمو آدابو په اړه هم غږېدلي یو چې په قرآن کریم کې د تفکر او تدبر پر مهال یې په پام کې نیول لازمي دي. د هغو خنډونو په اړه مو هم خبرې کړې دي چې له امله یې د قرآن کریم څېړونکی پر قرآن کریم ښه نه شي پوهېدلی، ښه تفکر نه شي په کې کولی او د مفاهیمو او حقایقو د موندلو په وړاندې یې خنډ ورته جوړوي.

له هغه وروسته د رسول الله ﷺ دورې ته تللي یو، ځکه هغه د قرآن په سم پوهېدلو کې امانتدار و [څه کمی او زیاتی یې په کې نه کاوه]، له اصحابو کرامو رضي الله عنهم څخه پټې معناوې به یې ورته څرګندولې، په غیر ارادي ډول له هغوی څخه شوې تېروتنې به یې ور سمولې او سمې معناوې به یې ورته وړاندې کولې. په دې هکله مو د حدیثو له کتابونو څخه د هغه د اصلاح شپېر بېلګې راوړې دي.

بیا د رسول الله ﷺ له اصحابو کرامو رضي الله عنهم سره تم شوي یو، په دې چې هغوی د قرآن په سم پوهېدو کې امانتداره وو. د آیتونو د معناوو او هغو تېروتنو په اړه مو د اصحابو کرامو رضي الله عنهم د

اصلاحاتو دوولس بېلګې راوړې چې نور خلک د آیتونو د کتنې پر مهال پهکې تېروتلي وو.

د رسول الله ﷺ او د هغه د اصحابو کرامو رضي الله عنهم له ژوندانه څخه د دې بېلګو لـه راوړلـو څخـه زموږ موخه دا ښودل او بیانول وو چې د قرآن کریم د هر ناسم فهم او د هغه د آیتونو د ناوړه تفسیر اصلاح او سمون واجب او لازمي دی او د دې کار کوونکي وغندو او رد پرې وکړو.

د کتاب پاتې برخـه مـو دې تـه ځانګړې کـړې چـې د قـرآن د ځینـو آیتونـو پـه اړه د معـاصرو مسلمانانو تفسیر اصلاح کړو، له آیتونو څخه د هغو درک او فهم، پر هغو استدلال او له هغـو څخـه استشهاد سم کړو.

داسې ډېرش آیتونه مو راوړي چې ځینو ترې سم اخځ او درک نه دی کـړی، سـم نـه دي پـرې پوهېدلي، سم يې نه دي تفسیر کړي، مفاهیم یـې ورګډوډ کـړي، معنـاوې یـې ور تحریـف کـړې، حقایق يې ور ضایع کړي، لارښوونې يې باطلې کړې، د هغو د موخو، معنـاوو او بیـانونو پـر عکـس څه يې ترې را ایستلي دي.

دغو آیتونو مختلف موضوعات او بېلابېل مفاهیم درلودل؛ ځینې آیتونه د ایـمان او عقیـدې پـه اړه دي، ځینې د جهاد او مجاهدې پـه اړه، ځینـې د دعـوت، عمـل او خوځښـت پـه اړه او ځینـې د اقتصاد، ټولنې، سیاست، تاریخ او شخصي احوالو په اړه دي.

د دغو آیتونو تر منځ ګډه ټکی دا دی چې: ټول يې واقعي اړخونه، ډېر مهم مفهومونه او ژونـدي ارزښتونه لري، چې موږ په عملي بڼه ژوند په کې کوو.

د دې لپاره چې له دغو آیتونو څخه سم اخځ وکړو، په سمه توګه يې تفسیر کړو او د دغو په اړه چې نورو خلکو کومې خبرې کړې دي، هغه په داسې ډول سـمې او اصـلاح کـړو چـې د منلـو وړ وي، نو د دې ټولو لپاره مو پر یوې څېړونکې تګلارې تکیه کړې ده، ان شاء الله:

۱- دغو آیتونو ته یوازې تم شوي یو، له مخکنیو ثوابتو او مقرراتو پرته يې نړۍ ته ورننـوتي یـو، په خپله له آیتونو څخه مو د هغوی مفاهیم، حقایق او ثوابت ترلاسه کړي دي.

۲- په آیتونو کې مو اوږده کتنه کړې او ورته تم شوي یو، تر څو هغه څه ترې ترلاسه کـړو چـې

آیتونو له ځانه سره راوړي دي. دغه کار مو د غور او کتنې د کره والي او د پایلو اخیستنو د سموالي له امله کړی دی.

۳- کوم آیت ته چې تم شوي یو، هڅه مو کړې ده، هغه ته د ورته موضوع په اړه په نورو آیتونو کې غور او پلټنه وکړو، ورته آیتونه مو راخیستي دي او له دغه آیت سره تر څنګ مو خپلې مخې ته ایښي دي، له ټولو آیتونو څخه مو یو ځای دلالتونه را ایستلي او مفاهیم مو یې په داسې ډول وړاندې کړي دي چې یو و بل بشپړوي. دې ته په قرآن سره د قرآن تفسیر ویل کېږي چې د قرآن په آیتونو کې پر هر څېړونکي باندې لازم دی.

۴- که مو د آیت د معنا په اړه د رسول الله ﷺ کومه وینا موندلې ده، پر هغې مو تکیه کړې، همداراز د اصحابو کرامو رضي الله عنهم او تابعینو اقوال مو هم د آیت د معنا په تړاو راخیستي دي.

۵- د آیت په اړه مو د مخکنیو مفسرینو اقوال کتلي دي او کله ناکله مو د هغو ځینې خبرې هم راوړې دي، دغه کار مو د دې لپاره کړی دی چې موږ او نورو ته له آیت څخه د اخیستل کېدونکو ناسمو مفاهیمو او اخځونو تېروتنې ځرګندې شي او همدارنګه د پخوانیو عالمانو، ثقاتو او مفسرینو له اقوالو سره د دغه ناسم فهم مخالفت راته ښکاره شي.

۶- کوم درک او فهم چې مو مات او نقض کړی او کوم تفسیر چې مو رد کړی، هغه مو په صادقانه، کره او سمه توګه بیان کړی دی، د هغه په خاوندانو پسې مو خبرې نه دي کړې او نه مو هغه څه ورته منسوب کړي چې هغوی نه وي ویلي. په دې کې مو پر خپل لوست، اورېدو او یا پر هغه نقل تکیه کړې ده چې موږ ته رښتینو ثقاتو او باوري کسانو راوړي دي.

موږ د وینااوالو د نومونو او شخصیتونو یادونه نه ده کړې، چې څوک تورن نه شي یا یې سپکاوی ونه شي او زموږ اصلاحات په شخصي شخړو بدل نه شي. د نومونو او شخصیتونو د نه یادولو بل لامل دا دی چې زموږ له وینااوال سره کار نه شته، په خپله وینا او قول راته مهم دی، چې د قول بطلان وشي، بس موږ خپل هدف ته رسېدلي یو او دنده مو سرته رسولې ده، ان شاء الله.

دغه اصلاحات ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوو، په دې پسې یو بل کتاب هم ورته وړاندې کوو، چې په هغه کې به د اصلاحاتو نورې ټولګې هم وړاندې کړو، همدا کتاب هم په بل چاپ

کې پراخوو، ځینې هغه آیتونه چې معناوې یې بدلې شوې او هغه مفاهیم چې بنې یې بدلې شوې، ور زیاتوو.

له الله ﷻ څخه هیله لرو چې زموږ اصلاحات او سمونې پر ځای وي، خبرې مو د منلو وړ او تفسیر مو رښتینی او کره وي. له الله ﷻ څخه غواړو چې قرآن زموږ د زړونو پسرلی، د سینو رڼا، د اندېښنو لرې کوونکی او د خپګانونو او غمونو له منځه وړونکی وګرځوي. د قرآن کریم پر هغه برخه مو پوه کړي چې موږ پرې نه پوهېږو، هغه څه یې رایاد کړي چې له موږ څخه هېر شوي او قرآن کریم د قیامت په ورځ زموږ لپاره دلیل او شفاعت کوونکی وګرځوي.

وصلی الله علی سیدنا محمد.

صویلح: دوشنبه ١/ ٤/ ١٤٠٧ هـ ق

١/ ١٢/ ١٩٨٦ م

دکتور صلاح عبد الفتاح خالدي